د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD)
د عملي کار لومړی کتاب

# د فعالیت کتاب

## له ۲ – ۳ کلنو لپاره

د ماشومتوب د ابتدايي دورې د پراختيا لپاره بوختوونکي فعاليتونه.



education above all
التعليم فوق الجميع

# پرمختګ څارني وسيله

کله چي تاسي يو فعاليت سرته ورسوئ
په اړونده صندوق کې د (✓) نښه کېږدئ

| | فعاليت | تر ۵ زيات ځلي  | ۲ تر ۴ ځلي  | يو ځل ترسره شوي  |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ودانيز بلاکونه جوړول | | | |
| ۲ | د کيسي وخت | | | |
| ۳ | سندري ويل | | | |
| ۴ | د توکو موندنه | | | |
| ۵ | د غږ انګازي لوبه | | | |
| ۶ | په انځورونو بحث کول | | | |
| ۷ | منظمي نموني | | | |
| ۸ | فلش کارتونه | | | |
| ۹ | د کيسي تسلسل ترتيبول | | | |
| ۱۰ | د مطابقت ورکولو لوبه | | | |
| ۱۱ | د کيسي کڅوړه | | | |
| ۱۲ | د حافظي لوبه | | | |
| ۱۳ | د قافيي کڅوړه | | | |
| ۱۴ | د کردار تمثيلول | | | |
| ۱۵ | د شيانو طبقه بندي کول | | | |

# ودانيزې خښتې جوړول



## اړین توکي

د کور د استعمال توکي چې د یوه بل د پاسه ایښودل کېدای شي *(صندوقونه، قابونه، پلاستیکي پیالې، کتابونونه، او داسې نور.)* یا ودانیز بلاکونه

## د فعالیت وخت!

- توکي په فرش باندې کېږدئ.
- پرېږدئ چې ماشوم مو ورسره لوبې وکړي.
- هغوی سره د یوه ځلي په جوړولو کې مرسته











# د کیسې وخت

education above all
التعليم فوق الجميع




## اړین چمتووالی

د کیسو کتاب غوره کړئ **یا** یوه کیسه ووایئ

## د فعالیت وخت!

- کتاب په لوړ غږ ولولئ یا یوه کیسه ووایاست.
- بیانوونکي اوسئ! ډول ډول غږونه وازمایاست او وېې کاروئ!
- خپل ماشوم ته عکسونه وښایاست یا توکو ته اشاره وکړئ.



کیسه لوستل
*(ببلګه په بل مخ ده)*



کیسه ویل

# پټ پټوني



کريم خپلې مور سره
پټ پټونې کوي.



هغه ۷ ټوکرۍ پيدا
کوي.



هغه ۶ مرتبانونه ګوري.



هغه ۵ بڼکې ګوري.

د پټ پټونې {(Hide and Seek (English)} کیسه د کیسې اوبدونکي (StoryWeaver) په هکله د CC BY 4.0 جواز لاندې د ټول ماشومان يې لولي کمبوډيا



هغه د ساز جوړولو ۳ اوزار
ګوري.



هغه په الماریٔ کې ۴ پطلونونه
پیدا کوي.



بالاخره هغه یوه مور
پیدا کوي!



هغه څو لاسونه ګوري؟

# سندرې ويل





## د فعاليت وخت!

- ۳ سندرې ووايئ. *(ببلګې په بل مخ دي)*
- له سندرو سره لهجه/لحن او د خېرې تاثرات او حرکتونه وکاروئ.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې له تاسې سره يوځای سندره ووايي او حرکت ترسره کړي.








# د حرکت سندرې

د کاغذ ټوټې،
د کاغذ ټوټې،
پر فرش پرتې،
پر فرش پرتې،
ځای چټلوي،
ځای چټلوي،
راپورته يې کړه
راپورته يې کړه.




يوه ګوته په خپل غومبري کېږده،
بيا يې په خپله پوزه کېږده؛
خپلې ګوتې ګردې ګردې تاوې کړه،
او خپل د پښو پنجو ته يې ونيسه.
په نڅا يې راوله،
په غر يې وخېژوه:؛
د دې لپاره چې ښې دي، چکچکې ورته ووهه،
او هلته يې کېږده چېرته چې دوی لا هم دي.




خپل لاسونه وپړقوه،
خپل لاسونه وپړقوه،
ساز ته غوږ شه
او خپل لاسونه وپړقوه.

خپله پښه ووه،
خپله پښه ووه،
ساز ته غوږ شه
او خپله پښه ووه.
تاوه شه،
تاوه شه،
ساز ته غوږ شه
او تاوه شه.
پورته ټوپ کړه،
پورته ټوپ کړه،
ساز ته غوږ شه
او پورته ټوپ کړه.
خپل لاسونه وپړقوه،
خپل لاسونه وپړقوه،
ساز ته غوږ شه
او خپل لاسونه وپړقوه.



**زه کيڼ کتلی شم،**
**زه ښي کتلی شم،**
**تا ته سلام!**
**تا ته سلام!**
**زه ځمکې ته ګورم،**
**زه آسمان ته ګورم،**
**والوځه، کوچنۍ مرغۍ**
**د خدای په امان، د**
**خدای په امان**



© Copyright 2010 – 2021 TELUGUKIDSTORIES.COM

# خلورم فعالیت

# د توکو لټول

التعليم فوق الجميع | education above all

## اړین توکي



د کورني استعمال ۶ ډول ډول توکي

### د فعالیت وخت!

- د شیانو نومونه واخلئ، په یو وخت کې د یو شي نوم واخلئ.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې شی پیدا کړي او تاسې ته یې راوړي.
- که زیات بچیان ولرئ، هغه بچی ګټونکی دی څوک چې ټول شیان تر نورو مخکې پیدا کوي.

### ځیني بیلګې:




### ګټوره سپارښتنه

دا لوبه له بیلا بیلو توکو سره په جلا جلا ځایونو کې ترسره کړئ.


*باغ: پاڼه، ډبره، ګل، او داسې نور.*

# د غږ انګازې لوبه

## د فعالیت وخت!

- له چکچکو او وقفو څخه په ګټه اخیستنې سره یو تال/منظم غږ جوړ کړئ
- خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې د ستاسې جوړ تال یا منظم غږ تقلید وکړي.

## نمونه یي شکلونه



چکچک وقفه چکچک چکچک



۲ ځلي چټکې چکچکې وقفه ۳ ځلي چټکې چکچکې



### ګټوره سپارښتنه

تاسې د غږونو د منظمو شکلونو دجوړولو لپاره له یوې قاشوغې او ارکارې څخه هم ګټه اخیستلای شئ.

# په انځورونو بحث کول



اړین توکي

هر ډول کتاب / مجله / معلوماتي پاڼه له انځورونو سره **یا** لاندیني انځورونه وکاروئ.

## د فعالیت وخت!

په یوه انځور باندې له خپل بچي سره خبرې وکړئ. پوښتنه وکړئ:

- څه کیږي؟
- د ځای نوم واخله.
- د شیانو نومونه واخله.
- خلک څوک دي؟








تاسې په ګډه سره یوه کیسه هم ترتیبولای شئ!

# منظم شکلونه

التعليم فوق الجميع | education above all



## اړین توکي

کاغذ یا کوچني
خیزونه


## د فعالیت وخت!

- له خیزونو سره ډول ډول شکلونه جوړ کړئ او د شکل نوم په لوړ غږ سره ووایئ (تاسي د خپلي خوښي هر شکل او رنګ کارولای شئ).
- پریږدئ چي ستاسي ماشوم پخپله اړونده شکل جوړول تکرار کړي.

## نمونه یي شکلونه



نیلا سور نیلا سور نیلا



ستورى ستورى زړه ستورى ستورى زړه

### ګټوره سپارښتنه

- د کاغذ په کارولو سره شکلونه غوڅ کړئ.
- ماشوم ته د هغه شکل نوم په لوړ غږ سره واخلئ چي جوړ يي کړي.



# فلش کارتونه

التعليم فوق الجميع education above all

## اړین چمتووالی



- د خپل ماشوم د خوښې په ۵ شیان غوره کړئ. *(د بېلګې په ډول: کتابونه، قاشوغه، او داسې نور.)*
- د کاغذ په وړو وړو ټوټو باندې کلمې یا لومړی توری ولیکئ.

## د فعالیت وخت!

- کلمې خپل ماشوم سره ولولئ.
- خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې کلمه یا توری صحیح انځور/شیز سره کېږدي.



منه/Apple

الف/A



توپ/Ball

ت/B



کتاب/Book

ب/B



قاشوغه/Spoon

ق/S

# نهم فعالیت

# د کیسې تسلسل ترتیبول

## اړین توکي

پر یوه کاغذ باندې، له یوې ساده کیسې څخه  پېښې رسم کړئ.


## د فعالیت وخت!

1. خپل ماشوم ته یوه کیسه ووایئ.
2. خپل ماشوم پرېږدئ چې کارتونه د صحیح ترتیب له مخې چې څه شی لومړی پېښېږي، منځ کې څه پېښېږي او په پای کې څه پېښېږي، تنظیم کړي.
3. له خپل ماشوم څخه د کیسې د تکرارولو غوښتنه وکړئ.

**د ترتیب له مخې د تنظیمولو ساده فلش کارتونه**







لسم فعالیت

# د مطابقت ورکولو لوبه

education above all
التعليم فوق الجميع

## اړین توکي

د کور د استعمال شیانو جوړې – لکه ۲ قاشوغې، ۲ قابونه، ۲ قلمونه، او داسې نور.



## د فعالیت وخت!

نیمایي شیان د خپل ماشوم مخې ته کېږدئ.

تاسې نور شیان هم اضافه کولای شئ.



هغوی ته یو شی ورکړئ او ورته ووایئ دي سره سمون درلودونکی شی پیدا کړي.

همدا کار له نورو شیانو سره تکرار کړئ.



# د کيسې کڅوړه

## يوولسم فعاليت

### اړين توکي

- د کور د استعمال له ۵ تر ۶ شيان
- يوه کڅوړه يا رخت د شيانو د پټولو لپاره



## د فعاليت وخت!

- له خپل بچي سره، د کورني استعمال يو څو شيان راټول کړئ.
- دا په يوه کڅوړه کې واچوئ. د هر شي نوم واخلئ.
- ستاسې ماشوم له کڅوړې څخه ۲ شيان راخلي.
- په ګډه له دغه شيانو څخه په ګټه اخيستنې سره يوه کيسه جوړه کړئ.

### بيلګې





يوه نجلۍ يوه منڼه خوري او هغه غيرعادي قوتونه لاسته راوړي! هغه د نه ليدو وړ ګرځي..





يو اېږ ډېر ورېی شوی و. هغه درې جادويي قاشوغې وليدې. د هرې قاشوغې خوند د نويو خوړو په څېر دی.

دولسم فعالیت

# د حافظې لوبه

التعليم فوق الجميع | education above all

## اړین توکي



د مطابقت درلودونکو عکسونو یا رسمونو ۱۰ جوړې

*(ببلګه په بل مخ ده)*

## د فعالیت وخت!


- کارتونه ګډوډ کړئ او مخ کښته يې کېږدئ.
- له خپل بچي څخه غوښتنه وکړئ چې د خپلې خوښې دوه کارتونه واړوي.
- که دواړه کارتونه مطابقت ولري (مشابه وي)، دا جوړه لېرې کړئ.
- که کارتونه مطابقت و نه لري (مشابه نه وي)، بېرته يې مخ کښته واړوئ.
- له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې په یاد ولري هر عکس چېرته دی او بیا د يوې بلې جوړې د برابرولو هڅه وکړئ.
- لوبه هغه وخت پای ته رسېږي کله چې ټول کارتونه سره جوړه جوړه شوي وي.





# د حافظې لوبه

تاسې کولای شئ د دې کارتونو ۲ دستې جوړې کړئ:



دیارلسم فعالیت

# د قافيې کڅوړه



## اړین چمتووالی

قافيه بندي





د قافيه لرونکو مونږ سره د شیانو یا رسمونو جوړې پیدا کړئ. د بېلګې په ډول:

- Star/ستوری – car/موټر
- Mat/سطرنجی – cat/پیشو
- Pen/قلم – ten/لس

## د فعالیت وخت!

- د شیانو/رسمونو نومونه واخلئ او خپل ماشوم د نومونو تکرارولو ته راوبولئ.
- نومونه په قافيه لرونکو جوړو کې ترتیب کړئ.
- دا له خپل بچي سره تکرار کړئ.
- شیان/رسمونه یوځای کېږدئ.
- یو انتخاب کړئ او له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې جوړه يې پیدا کړي.





# د کردار تمثیلول



## اړين توکي

کاغذ او قلمونه.


د لاسرسي وړ هر ډول هنري توکي.

## د فعالیت وخت!

- د خپل ماشوم د خوښې کيسه انتخاب کړئ.
- له کیسې څخه کردارونه رسم او غوڅ يې کړئ.
- د پرې شويو کردارونو په کارولو سره کيسه بیاځلي ووايئ.










# د شیانو طبقه بندي






## اړین توکي

۱۰ د کورني استعمال څیزونه یا د لوبو توکي

## د فعالیت وخت!

- ماشوم به د حجم (ستر / کوچني) پر بنسټ شیان جلا کوي.
- شیان سره ګډوډ کړئ. اوس، هغوی د رنګ پر بنسټ شیان جلا کوي.
- خپل ماشوم سره په هر ډېري کې شیان وشماری.








# CERTIFICATE OF COMPLETION



This certificate is awarded to

________________________________

for the successful completion of the **Activity Book** with their young learner.

التعليم فوق الجميع | education above all



____________________

Facilitator

# د سر ته رسولو تصدیقپاڼه

ښاغلي/آغلې ــــــــــ ته دا تصدیقپاڼه له خپل کوچني زده کوونکي سره د **فعالیت کتاب** په بریالیتوب سره سر ته رسولو لپاره ورکول کیږي.

---------------------------

تسهیلوونکی